AREU
د ښه افغانستان لپاره څېړنې
۱۲ کاله باکیفیته څېړنه

# په افغانستان کې د ټاکنیزو اختلافونو په اړه د کار د ډول وضعیت

زمری ۱۳۹۳
اروني جیا کودی

په ۲۰۱۰ کال کې افغانستان له یوه بیساری وضعیت سره مخامخ شو، سره له دې چې د ټاکنیزو بی قاعده ګیو (بینظمیو) د سمون لپاره دوو ادارو وجود درلود، اجرائیه قوې د اساسي قانون له حکمونو څخه جلا یوه بله اداره جوړه کړه، چې د ټاکنیزو شکایتونو په هکله پریکړې وکړي. په قانوني چوکاټ کې پیچلتوب او د غزنی په ولایت کې ناڅاپي او غیر مترقبه ټاکنیزو پایلو د ټاکنو په اړه ډیر شکایتونه رامینځ ته کړل. اجرائیه قوه چې د ټاکنیزو ادارو له غبرګون څخه راضي نه وه یوه خاصه ټاکنیزه محکمه یې جوړه کړه ترڅو د ناراضو نوماندانو شکایتونو ته بیا کتنه وکړي. سترې محکمې د خپل خصوصیت له مخې د اجرائیه قوې خوا ونیوله او د نوموړې محکمې جوړیدل یې تائید کړل او هغې ته یې اجازه ورکړه تر څوراېې د شته قوانینو او طرزالعملونو پر خلاف، بیا له سره وشمیري. دغه بحران ډیر له نړیوال او محلی ډیر فشارڅخه وروسته د یوې سیاسي روغې جوړې له لیارې پای ته ورسید. په ۲۰۱۴ کال کې، هیڅا ګومان نه کاوه چې داحالت به تکرار شي. د ټاکنو قوانین اصلاح او د ټاکنو جوړښتونه غښتلی او تقویه شوي وو. په هر حال، دې خبرې ته په پاملرنې سره چې که چیرې د ۲۰۱۰ کال له سختو درسونو څخه سبق وانه خیستل شي نو د ۲۰۱۴ کال له رایو سره به هم په شدت سره مخالفت وشي، او دا امکان به ډیر لږ وي چې د یو سیاسي او اساسی قانون د بحران له بیا پیدا کیدلو څخه مخنیوی وشي

## د ۲۰۱۰ کال خاصه ټاکنیزه محکمه

د ۲۰۱۰ کال د ټاګنو د خاصې محکمې مبداء د ۲۰۰۹ کال د جمهوري ریاست له ټولټاکنو څخه سر چینه اخیستي وه. د ۲۰۰۹ کال ټولټاکنو په لومړۍ دوره کې، ECCد رایو ډیر لویی شمیره چې د جمهور رئیس کرزی په ګټه کارول شوی و، باطل وګڼل. کله چې جمهور رئیس قدرت ته ورسید نو هڅه یې وکړه چې د ټاکنو قانون داسې جورکړې چې دی د ECC د غړو په ټاکلو کې یوازنی واک ولري. په ۲۰۱۰ کال کې ECC نوی جوړ شوی وو او هڅه یې کوله چې د وخت او نابسیا فزیکی منابعو سره سره تلاش وکړي تر څو د ټولټاکنو طرزالعملونه په وخت تصویب او پلیشي. په تیره بیا ECC په ډیر لږ وخت کې ډیر کار ترسره کړ ترڅو خپل ولایتی کارکوونکی وګوماري او روزل یې پای ته ورسوي. ددې ترڅنګ د ټاکنو قانون په هغه وخت کې روښانه نه وواو په دواړو IEC او ECC کې یې موازي او سیالي کوونکي پریکړه کوونکي واکمن مقامونه درلودل. د شمیرنو په مرحله کې IEC کولای شو پریکړه وکړي چې رایې څنګه ومنل شي یا باطلې وګڼل شي، په هر حال یوځل چې شمیرنه بشپړه شوه، ECC واک درلود پخوا ته په کتنې سره هغه رایې اعلان کړي چې د IEC له خوا منل شوی وي. قانون ددې خبرې وړاندلیدنه ووکړی چې د نوموړو دوو جوړښتونو ترمینځ د اختلاف په صورت کې باید څه وشي.

د ۲۰۱۰ کال په ټولټاکنو کې کله چې یو ځل رایې وشمیرل شوې، څرګنده شوه چې سیاسی انځور(تصویر) به د جمهور رئیس په ضرر په لوړه کچه بدلون ومومي. په لومړۍ سر کې، جمهور رئیس هڅه وکړه چې په ټاکنیزو ارګانونو باندی نیغ په نیغه فشار راولي ترڅو د ټاکنو پایلوته بدلون ورکړی. دواړو ټاکنیزو جوړښتونو خپل دریځ ټینګ کړ او له دې څخه یې انکار وکړ چې د اجرائیه قوې له خوا ډیر فشار ته سرټیټ کړی. ECC ټولو ټاکنیزو شکایتونو ته بیا کتنه او پریکړه وکړه، IEC هم دهغه پر اساس د ټاکنو نهایي پایلې اعلان کړې. جمهور رئیس د څو بدیلونو تر مینځ د محکمې د جوړولو له لیارې دواړه ټاکنیز جوړښتونه یوې خواته کیښودل. سترې محکمې پخپل وار د اجرائیه قوې له غوښتنې سره توافق وکړ او وې ویل چې د محکمې جوړیدل له اساسی قانون سره تطابق لري. خو ددې پرخلاف ICOIC خپل نظر درلود او دسترې محکمې ټولې پریکړې یې د محکمې د جوړولو د سموالی په اړه تر پوښتنې لاندې راوستلې.

له قانونی او سیاسی قوي مخالفت سره سره، محکمه جوړه شوه او خپل کارته یې نږدې شپږ میاشتې دوام ورکړ. محکمې، چې د ټاکنیزو ارګانونو له خوا تجرید او په دې ډول یې د هغو له خواڅخه نه ملاتړ او نه لارښوونه ترلاسه کړې وه، پرته له دې چې شته طرزالعملونو ته هیڅ ډول پاملرنه وکړي د رایو په بیا شمیرنه پیل وکړ. په پای کې نړیوال او محلی فشار بریالی او یو سیاسي جوړجاړی رامینځ ته شوه چې د هغې پر بنسټ محکمه منحل او واک بیرته IEC ته وسپارل شو، چې د ټاکنیزو شکایتونو پایلې وټاکي. خود پوښتنی وړ ده چې نړیواله ټولنه ددې پرځای چې د IECترشا ودریږي، د IEC په مامورینو یې فشار راووړ چې سیاسي جوړجاړی ومنځ او د ټاکنو اصلی نتیجې له سره وګوري. د IEC موندنې پخپله له داسې بی اعتباره موقف څخه پر مخ ولاړې چې د ECCپریکړې یې د رایو د ټګۍ په اړه (چې نهایی پریکړی وی) په داسی حال کې تر بیا کتنې لاندې ونیولې چې د ټولټاکنو د قوانینو پوره نقض ګڼل کیده. بحران هغه وخت پای ته ورسید چې د پارلمان نهه غړي چې ټولټاکنې یې ګټلې وې خپلې کرسۍ له لاسه ورکړې او پر ځای یې نهه نور نوماندان چې لومړی په ټاکنو کې بریالي شوي نه وو، پارلمان ته راغلل.

## سیاسي مفاهیم او ستونزي

د۲۰۱۰ کال ټاکنو له سره اړوندې پیښې یوازې د قانوني پیچلتوب پایلې نه وې، بلکې د سیاسي لوی رقابت او جګړې له خوا مینځ ته راغلې وې. لومړی، په غزنی کې چې د اکثریت پښتنو سیمه وه، ټولې یوولس کرسۍ هزاره نوماندانو لاس ته راوړې وې. دې موضوع د تقلب تومتونه او دنوو ټولټاکنو غوښتنې رامینځ ته کړې. دوهم، په هغه وخت کې ناظرینو ولیدل چې ښایي جمهور رئیس هم د عمده سیاسي دلالانو په اړه اندیښنه درلوده چې ټاکنې یې بایللې وې،

او په دې توګه د خپلې دوهمې دورې په جريان کې د غښتلي او قوي پارلمان د شتون په اړه انديښمن وو. دريم، دې خبر ته په کتنې سره چې په ۲۰۰۹ کال کې ټاکنيزو جوړښتونو ډېرې زياتې رايې چې د جمهور رئيس په ګټه به کارول شو وې باطلې اعلان کړې، داسې ويل کيدل چې د جمهور رئيس غټه علاقه دا وه چې د ټاکنو ادارې د خلکو په مخ کې سپکې کړې.

د ۲۰۱۰ کال پيښو د ټاکنو په جريان کې وښوده چې د ټاکنو په لړ کې اجرائيه قوې ډېره لويه مداخله کړې وه. د ۲۰۱۰ کال په شان، د ۲۰۰۹ کال له ټاکنو وروسته، حکومت علاقه لرله چې IEC هغه نوماندان چې د ټاکنو په جريان کې يې انتقاد اونيوکه کړې وه، تر تعقيب لاندې ونيسي. دا اجرائيه قوې دا وړتيا چې په شته طرز العملونو کې مداخله وکړي او هغو ته له خپلې خوښې سره سم بدلون ورکړي، د پارلمان او قضاييه قوې له خوا د اساسي قانون پر اساس له خپل قدرت څخه د ګټې نه اخيستلو او نه وړتيا نتيجه ده، چې اجرائيه قوې ته يې دا جرات ورکړې وو چې له خپل حد څخه تجاوز وکړي او دا دوه قوې يې مخنيوی او کنترول ترسره نه کړي

## د اساسي قانون مفاهيم او ستونزې

د اساسي قانون له نظره د محکمې جوړول د افغانستان په قانون کې د قواوو د تفکيک او انډول د کمزورتيا ښکارندويي کوي. اساسي قانون د يوه فوق العاده قوي اجرائيه قوې وړاندليد کړی دی چې انډول يې د يوه قوي پارلمان او خپلواکې قضاييه قوې له خوا برابر شوی نه دی. اصلي ستونزه په تيره بيا د قضاييه قوې د جوړښت او په عمل کې د هغې د کړنو کمزوري ده. لومړنی پوښتنه دا ده چې افغانستان د ټولټاکنو د اختلافونو د حل کول لپاره تخصصي جوړښتونو ته څه اړتيا لري، په داسې حال کې چې په ډېرو نورو هيوادونو کې دا دنده قضاييه قوې ته ورکړل شوې ده. د دې پوښتنې يو ځواب دا دی چې د رسمي محکمو سيستم د ټاکنيزو شکايتونو د حل لپاره د باور وړ نه دی ځکه چې هغه نه خپلواکه او نه اغيزمنه ګڼل کيږي. په دې توګه، د قضاييه قوې د خپلواکۍ په نه شتون کې، کيدای شي ټاکنې د اجرائيه قوې په لاس کې د يوې وسيلې په توګه په خپله خوښه د جريان د بدلون لپاره استعمال شي، او د پارلمان ټولټاکنو په صورت کې د پارلمان غړي په خپله خوښه پخپل لاس راټول شي.

له جوړښتي نظره، په اساسي قانون کې ډېرې مادې وجود لري چې د قضاييه قوې ظرفيت د دولت د نورو دوو قواوو په پرتله کمزوری کوي. جمهور رئيس صلاحيت لري چې د سترې محکمې قاضيان د پارلمان په تاييد وټاکي. اداري محدوديتونو لکه د پارلمان له خوا د سترې محکمې د بودجې او د قاضيانو لپاره د نابسيا امتيازونو تاييد د سترې محکمې خپلواکۍ لا ډېره زيانمنه کړې ده. پردې برسېره ، د قدرت انډول د اساسي قانون د حکمونو پربنسټ چې د جمهور رئيس يا د کابينې د غړو محاکمه يې له قضاييه قوې څخه اخيستی ده، د اجرائيه قوې په ګټه تمامه شوې ده.

که چيرې موضوع ته په انتقادي نظر وکتل شي، د اساسي قانون له ابهام څخه ډکه ۱۲۱ مه ماده سترې محکمې ته صلاحيت ورکوي چې قضايي بيا کتنه ترسره کړي؛ خو په ښکاره توګه محکمې ته د اساسي قانون د تفسير واک نه ورکوي. د پارلمان او اجرائيه قوې ترمنځ د کشمکش او رقابت په جريان کې، پارلمان له نوموړي ابهام څخه بده ګټه واخيسته، او داسې قانون يې تصويب کړ چې د اساسي قانون تفسير يې په ښکاره توګه ICOIC ته وسپاره. له يوې خوا، دې موضوع ته په کتنې سره چې او سنی قضاييه قوه د اجرائيه قوې په پناه کې کار کوي، سترې محکمې ته د اساسي قانون د تفسير واک ورکول نا شونی ښکاري. له بل پلوه، د بيلګې په توګه د ټاکنو د ځانګړې محکمې په اړه د ICOIC د ستاينې وړ نظريې، داسې ښکاري چې په سياسی توګه هڅول شوي وي او د کميسيون هغو غړو يې لارښوونه کړې وه چې د اجرائيه قوې د ځان غوښتنې او له خپل صلاحيت څخه ها خوا د هڅو په مقابل کې يې مقاومت او غبرګون ښودلی وو.

پر دې برسيره په اساسي قانون کې ځينې نور مواد او حکمونه چې په واقعيت کې يې د سترې محکمې خپلواکي تامين کړې ده، تطبيق شوي نه دي. د دې موادو په کتار کې عمده حکمونه هغه ټکني شرايط دي چې د ستری محکمی په قضاوتونو پورې اړه لري. د لومړنيو ګومارنو او ټاکنو په اړه، اساسی قانون په څرګند ډول وايي چې د سترې محکمې قاضيان په ترتيب سره د ۴ ، ۷ او ۱۰ کلونو لپاره ټاکل يا ګومارل کيږي. د دغې مادې په بشپړه توګه تر پښو لاندې کولو سره د قاضی القضات د کار موده اوږده شوې ده، او هغه خپلې دندې ته د « سرپرست قاضی القضات» په توګه دوام ورکوي. په دې توګه او سنی قاضی القضات له اساسی قانون سره په تناقض کې ۳,۵ کاله (دری نيم کاله) ډير په دې دنده کې پاته شوی ده.

له ۲۰۱۰ کال څخه راهيسې، نړيوالو او محلی فعالينو هڅه کړې، او تر يوه حده پورې بريالی شوي هم دی چې په ټولټاکنو پورې تړلي قانوني چوکاټونه کې تشې له مينځه يوسي او ټاکنيز جوړښتونه غښتلي کړي.په هر حال، د اساسي قانون د بنيادي حقايقو په اړه چې کولای شي ټول ټاکنيز جريان کمزوری کړي، لږ کار شوی دی

## له ۲۰۱۰ کال څخه را په دې خوا پرمختګ

د شريکانو او ګډون کوونکو ترمينځ داسی هوکړه وجود لري چې افغانستان په ۲۰۱۴ کال کې د ۲۰۱۰ کال په پرتله په ښه موقعيت کې ځای لري. له قانوني کبله ټاکنيز چوکاټ غښتلی شوی دی، له جوړښتي پلوه د ټاکنيز جريان په اړه ډيالوګ او بحثونه د نړيوالو فعالينو د تسلط پرځای، ډيرې «افغان مينځې» شوي دي. د ۲۰۰۴ کال د اساسی قانون پر بنسټ، پارلمان د لومړي ځل لپاره په ۲۰۱۳ کال کې د ټاکنو قانون او د ټاکنو د خپلواک کميسيون او د ټاکنو د شکايتونو د خپلواک کميسيون د تشکيلاتو ، دندو او صلاحيتونو قانون، تصويب کړل. د ټولټاکنو د نوي قانون پربنسټ د IEC او ECC (نوی نوم يې IECC ) صلاحيتونه په ښه ډول مشخص شوي دي. د IEC او ECCترمينځ موازي صلاحيتونه له مينځه تللي دي. IECC اوس يوه دايمی اداره ده او د رايو د اعتبار او پاکوالی په اړه نهايی صلاحيت لري. اصلاحاتو په عين حال کې د ګومارلو يو نوی مکانيسم رامينځ ته کړ چې د هغه پر اساس جمهور رئيس بايد هرو مرو د ټاکنو په ادارو کې مسئولين د هغو کسانو له ډلې څخه وګماريچې د «غوراوی کميټې» له خوا چې غړي يې يو شمير فعالين لکه د پارلمان د دواړو جرګو رئيسان، قاضی القضات، ICOIC او AIHRC رئيسان او د مدني ټولنې استازي دی، وړانديز شوي وي.

له دغو لاسته راوړنو سره سره، هم په قانوني چوکاټونو کې کمزورتیا او هم د هغو په پلي کولو کې ضعف شتون لري. د بېلګې په توګه، کله چې د غوراوي کمیټه جوړېدله، هغه کسان چې د ډېرو غښتلو مدني ټولنو ملاتړ یې درلود له پامه وغورځېدل او د هغو پر ځای د داسې ادارو استازي غوره شول چې تراوسه په ټولنه کې د مدني ټولنو په نوم چا نه پېژندل. کله چې د غوراوي کمیټه جوړه شوه، په دې بریالۍ نه شوه چې د نوماندانو د ټاکلو لپاره کوم ښه او صحیح طرزالعمل جوړ کړي. کمیټې د نوماندانو د لنډ لست جوړولو له طریقې څخه استفاده وکړه او هغه څوک یې وټاکل چې داسې څرګندېدل چې هم یوه طرف ته متمایل وو، او هم یې د ټاکنو په اداره کې هیڅ ډول تخصص او پوهه نه درلودله. له هغه وخته چې نهایي ګومارنې تر سره شوې، د ټولټاکنو ادارې د اعتبار له لړوالی سره مخامخ وې، او د جمهوري ریاست د نوماندانو له خوا په انتقادي ډول په پرله پسې توګه ویل کېدل چې ځینې کمېشنران د یوه کاندید پلوي کوي او یا د جمهوري ریاست د ارګ ملاتړي دي.

## پایله

له ۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۱۴ کال پورې له هغو ټولولاس ته راوړنو سره سره چې د ټاکنیزو اختلافونو په چوکاټ کې لاس ته راغلي دي، د اساسی قانون کمزورتیا چې په ۲۰۱۰ کې یې د ټولټاکنو جریان د تقلب په وړاندې زیان منونکی کړ، پر ځای پاتې دي. د ۲۰۱۴ کال ټولټاکنو یوازې د ټاکنیزو ادارو بنیادي کمزورتیا څرګنده کړه. د ټاکنو په جریان کې د اجرائیه قوې لاس وهنې، په تېره بیا د شمېرنې په جریان کې خورا ډېرې لړ وې. خو په هر صورت دغه ستونزې لکه په رایو کې د ټګۍ مخنیوی، په ټاکنیزو ادارو بې باوري، د ټاکنیزو ادارو تر مینځ او همدا ډول د نوماندانو او نورو عمده ګډونکونکو تر مینځ د همغږۍ نه شتون د ۲۰۱۴ کال په ټولټاکنو کې تر سترګو کېدل. د جمهوري ریاست د دوهمې دورې د لومړنیو پایلو تر اعلان وروسته، د جمهوري ریاست نوماند عبدالله عبدالله نتایج رد کړل او د ټاکنو جریان یې پرېښود. د سیاسی بحران د مخنیوي لپاره په یوه هڅه کې، نړیوالې ټولنې مداخله وکړه او د یونما(UNAMA) ترنظر لاندې یې د ټولو رایو د ۱۰۰ سلنې تفتیش وړاندیز وکړ. تر نن پورې، تفتیش په وړ توګه روان دی که څه هم له پیل څخه د شمېرنې پر جریان په تېره بیا د رایو د اعتبار په معیار باندې د نوماندانو له خوا پر له پسی اختلاف موجود وو. په دې پروسې کې IECC یوې خوا ته پرېښودل شو. بنایی د ۲۰۱۰ کال له درسونو څخه په زده کړې سره، نه نوماندانو او نه د ټاکنو ادارو، قضاییه قوې ته  د داسې ادارې په توګه وکتل چې د ټاکنو اختلافونه حل کړي. په دې توګه، له هغو لاس ته راوړنو سره چې په قانوني او جوړښتیز چوکاټ کې لاس ته راغلي دي، داسې معلومېږي چې په ټاکنو کې د جدي اختلافونو د حل ظرفیت په شته قانوني او جوړ ښتیز چوکاټ کې شتون نه لري.

یو عمده درس دا دی چې په افغانستان کې ټاکنیز اصلاحات او سمون باید یوه اوږد مهاله پروژه وګڼل شي چې له ټاکنو څخه ډېر پخوا باید دحل لارې وموندل شي، نه دا چې راتلونکو ټاکنو ته په ډېرنږدې وخت کې د هغه په هکله بیړه وشي. د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو پېښو ته په کتنې سره، داسې څرګندېږي چې د نوي حکومت له خوا به ټاکنیزو سمونونو ته ډېره مېنه وجود ولري. په هر حال، د ۲۰۱۵کال له پارلماني ټاکنو څخه پخوا باید د ټاکنو په چوکاټ کې کمزور ي او ضعف له اړوندو شریکانو او ګډون کوونکو سره په سلا او مشورې حل شي. د ټاکنو په قانون کې کله چې ټاکنو ته یو کال پاتې وي، د پارلمان له خوا د ټولټاکنو په قانون کې د تعدیل راوستلو ممانعت، په دې معنا دی چې د ۲۰۱۵ کال د ټاکنو په اړه هر ډول تعدیل او بدلون باید د جمهور رئیس د تقنیني فرمان پراساس راوستل شي.  په هر حال، د اصلاحاتو په هکله هڅې، په تېره بیا چې د جمهوري ریاست د تقنیني فرمان پراساس رامنځ ته کیږي، باید پراخې او د مشورې پراساس وي. کله چې په ټاکنیزو ادارو کې اصلاحات راځي او تقویه کیږي، باید په همهغه اندازه پاملرنه په اساسي قانون کې دقواوو د تفکیک لپاره، په تېره بیا د قضاییه قوی د خپلواکۍ د تقویت لپاره هم وشي.

## وړاندیزونه

- ټول ګډون کوونکي باید د افغان د قضاییه قوې د تقویت لپاره لارې ولټوي. په تېره بیا دا موضوعات لکه د قاضیانو ګومارنه، په مالي مسائلو کې استقلال، د اساسي قانون د اصولو پلي کول، او قاضیانو ته د مناسبې تنخا او معاشونو ټاکل باید تقویه شي.

- د ټولو راتلونکو ټاکنیزو قوانینو په اړه باید له ټولو شریکانو او ګډون کوونکو لکه مدنې ټولنو، سیاسي ګوندونو، د پارلمان له غړو سره سلا وشي، او د پارلمان له خوا تصویب او تائید شي.

- دواړه IEC او IECC باید خپل طرز العملونه، د بېلګې په توګه د رایو د فسخ کولو او باطلولو په اړه سره همغږي او همغاړي کړي.

- په ټاکنیزو جوړښتونو کې ګومارنې باید لا ډېرې رڼې او شفافې شي او په غوراوي کمیټې کې باید د مدني ټولنې او سیاسي ګوندونو استازیتوب وجود ولري.

- ټاکنیز جوړښتونه باید ټولو اړوندو شریکانو او ګډون کوونکو لکه نوماندانو، جمهوري ریاست، امنیتي ادارو او عامه خلکو ته ډېره لاسرسی نه ولري ترڅو په ټاکنیزو ادارو باندې باور او اعتماد لوړ شي.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد

| نیټه | د خپرونې نوم | لیکوال | پښتو | دري | دڅېړنې موضوع | د څېړنې دول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| آگست۲۰۱۴ | د افغانستان اساسي قانون لس کلن شولانجې کومې دي؟ | محمد هاشم کمالی | | | حکومتداری | تحلیلی څېړنه |
| آگست۲۰۱۴ | د افغانستان د ټاکنیزو ښخړودحل لپاره د میکانیزمونو وضعیت | اروني جیاکودی | ✔ | ✔ | حکومتداری | پالیسی پاڼه |
| آگست۲۰۱۴ | ناهیلیتوب یا امیدواري؟ له ۱۳۹۳م (۲۰۱۴) کال څخه وروسته په افغانستان کې د کوکنار کښت | پاول فیشستین او دیوید منسفیلد | ✔ | ✔ | د طبیعی سرچینو مدیریت | پالیسی پاڼه |
| جون۲۰۱۴ | په افغانستان کې ولایتي سیاست او حکومتولي: دننګرهار ولایت بېلګه | اشلي جکسن | ✔ | ✔ | پایښت لرونکی معیشت | موضوعي څېړنه |
| جون۲۰۱۴ | د ګردی میز بحث: دافغانستان د ټولټاکنو تجربې | د افغانستان د څېرنې او ارزونې واحد | | | حکومتداری | د ګردی میز د بحث جریان |
| جون۲۰۱۴ | له بدو بې بدتر کړ» د ننښتو په ولایتونو هلمند او ننګرهار کې د کوکنارو کر ته پام | دیوید منسفیلد | | | د طبیعی سرچینو مدیریت | موضوعي څېړنه |
| مې۲۰۱۴ | افغانستان: د کلیو د جلاکولو او ارزوني لپاره د یوې طریقې جوړول | آدم پین | | | پایښت لرونکی معیشت | کاري قاعده |
| مې۲۰۱۴ | د الف څخه تر یا د افغانستان لپاره مرستندوی لارښود دولسمه ګنه ۲۰۱۴ | د افغانستان د څېرنې او ارزونې واحد | ✔ | ✔ | | کتاب |
| مې۲۰۱۴ | افغان ملی پوځ له مالي اړخونو ها خوا د پایښت پروړاندی پرتې ننګونې | انتونیو جیستازی او پیتر کوینتن | ✔ | ✔ | حکومتداری | تحلیلی څېړنه |
| اپریل۲۰۱۴ | ټولنیز ملاتړ او د کار پروګرامونه څنګه په ټولنیزوځایوالي کې ونډه اخلي؟ د افغانستان، بنګله دیش، هند او نیپال څخه شواهد | بابکن بابا جانیان، جسیکا هاګن-زانکر او ربیکا هولمز | ✔ | ✔ | جندر | ترکیبی څېړنه |
| اپریل۲۰۱۴ | په افغانستان کی د برک ( BRAC ( د ژوندانه د مهارتونو د زده کړواو کاري مهارتونو د روزنې ونډه په تولنیز مشارکت کی | چونا اچاوز ،بابکن بابه جانین ،جسیکا هیګن زنکر | ✔ | ✔ | جندر | پالیسی پاڼه |
| اپریل۲۰۱۴ | د کار او اشتغال موندنی کړنلاری څرنګه په افغانستان کې له ټولنیز ادغام سره مرسته کوی؟ د BRAC )برک( د ژوند د روزنیزو مهارتونو او د ځوانو ښځو د معیشت لپاره د زده کړې بیلګې | چونا آر. ایچاویز، بابکن بابا جانیان، جسیکا هاګن-زانکر،شاهین اکتر، او جنیفرباګوپورا | ✔ | ✔ | جندر | موضوعي څېړنه |
| اپریل۲۰۱۴ | د خاورې ارزونه: په ۲۰۱۳ کال کې د بلخ او بدخشان په ولایتونو کې د کوکنارو کرکیله | پاول فیشستین | | | د طبیعی سرچینو مدیریت | موضوعي څېړنه |
| مارچ۲۰۱۴ | د افغانستان د ټاکنیزو شکایتونو په اړه قضاوت او د قانون د نه مراعاتولو خطرونه | غزال حارث | | ✔ | حکومتداری | موضوعي څېړنه |
| مارچ۲۰۱۴ | په افغانستان کې حکومتولي: یو پېژند | آریا نجات | | | حکومتداری | تحلیلی څېړنه |
| مارچ۲۰۱۴ | په افغانستان کې د کوچنیو او منځنیو کاروبارونو ( پانګونو ) پرمختګ او سیمه ییزه سوداګري | مجیب مشعل | | ✔ | سیاسی اقتصاد | کاري لیکنه |

### د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه موسسه ده. ددې اداري دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې دي، او همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه ، د څېړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره له خپلو څېړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې دترویج په موخه له پالیسي جوړوونکو ، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څېرنېزې وړتیا د پیاوړي کولو په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو ، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې بنسټ(AREU ) په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د نړیوالې مرستندویې ټولنې په همکارۍ جوړ شو. د غه بنسټ د مشرتابه یو بورد لري چې د مرستندویو ادارو، لکه: ملګرو ملتونو او نورو ګڼ اړخیزو ادارو او نادولتي ټولنو استازي پکې ګډون لري. AREU او سمهال د خپلو مرستو ډېره برخه د فیلنیډ له سفارته، د سویډن د بهرنۍ پرمختیا د مرستندویه ادارې (SIDA) او د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سویس له ادارې (SDC) څخه ترلاسه کوي.

په ۲۰۱۴ کال کې د دغه بنسټ د ځانګړو پروژو ملاتړ د اروپایي کمیسیون(EC)، د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سویس ادارې (SDC)، د نړیوال پرمختګ انستیټیوټ (ODI)، د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې (UNDP)، نړیوال بانک، د منځنۍ اسیا پوهنتون (UCA)، د امریکا د سولې انستیټیوټ (USIP)، د نړیوالې همکارۍ لپاره الماني ټولنې، GmbH ) (GIZ او د فیلنیډ د سفارت لخوا تر سره کېږي.